**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# له اسلام سره د سیکولر نخبګانو کرکه د دوی د دوه ګوني معیار له امله ده

په انګلستان کې د استنیاف محکمې پرېکړه کړې چې پر سلګونو شاهدانو سربېره نکاح ته واده نه ویل کېږي؛ له همدې امله د طلاق پر مهال دواړه لوري له هېڅ قانوني خوندیتوب او حقوقو څخه برخمن نه بلل کېږي.

دا د سیکولر دولت ناکامي ده، چې د بېلا بېلو خلکو عقیدې او ارزښتونه پکې ځای نشي موندلی. له یوې خوا، دوی د عصري لیبرال حق په توګه تبلیغاتو ته وده ورکوي، له بلې خوا له هغه جلا کېدونکو جوړو څخه انکار کوي چې په رسمي توګه یې خپل واده له دولت سره نه دی ثبت کړی.

اسلام چې د الله سبحانه و تعالی له لوري نازل شوی دی یو عادلانه نظام دی. د نکاح رسمي تړون هغه اساس بولي چې له کبله یې د طلاق شوو جوړو حقوق تر لاسه کېدلای شي او یوازې د دوو شاهدانو په حضور کې دغه تړون رامنځته کېدلی شي. د برېتانیا سیکولر قانون دا شاهدان ردوي، ترڅو مېرمنې په تخنیکي توګه د دوی حقوق رد کړي. ټوله نړۍ کولای شي په تړون کې شاهد ومني، حتا د دوی خپله محکمه هم د سوداګرۍ رول پکې لوبوي، خو کله چې د اسلامي ودونو خبره رامنځته کېږي، بیا نو هغه معیار نه پلی کېږي.

دا د هغو مسلمانانو لپاره چې په برېتانیا کې د ژوند تجربه لري، د حیرانتیا وړ خبره نه ده. موږ له دوه ګوني معیار سره چې اسلامي اعمال پکې شامل وي، عادت شوي یو. دولت اسلامي اعمالو ته هڅول ګناه بولي او د شک په سترګه ورته ګوري. رسنۍ دغه ناوړه پیغام ته وده ورکوي او له خلکو تمه لري چې له شک پرته دا مسله وخاري.

د مېرمنو د خوندیتوب لپاره د اسلامي ودونو د دریځ د کمزورتیا او سیکولر ایالت ته د وده ورکولو کمپاین په مسلسله توګه ګړندی روان دی، ځکه چې د استیناف محکمې پرېکړه یوازې د دوی وروستۍ څرګندونه ده. موږ په ۲۰۱۷م کال کې یوه مقاله لیکلې «ایا سیکولر ایالت واقعا د مسلمانو مېرمنو ساتنه کولی شي؟» په هغې کې موږ ویلي وو:

«په داسې یوه ټولنه کې چې په هرو اتو پلرونو کې یو یې له خپلو ماشومانو سره اړیکه نه لري، له واده پرته اړیکو یې د کورنیو جوړښتونه ویجاړ کړي، نو تمه کېږي چې د دغې ستونزې پر حلولو باندې باید تمرکز وشي. پر ځای یې سیکولر تاسیساتو هڅه کړې چې کلتوري ارزښتونه او د ودونو دودونه اسلام ته د زیان رسولو لپاره د یوې وسیلې په توګه وکاروي. په دې هیله چې خلک به له هغې مخ واړوي، ځکه چې دا په پس پاتې او ظالمانه توګه بیان شوي دي.

هغه وړانديز چې د برېتانيا قانون بايد د مسلمانانو له شرمه .د اسلامي ودونو څخه د ساتنې لپاره بدل شي، يو رښتينی حل نه دی، ځکه چې دا د مرغيو د ساتنې لپاره د ګېدړې تمې ته ورته دی. په داسې حال کې چې ځينې مسلمانان ښايي د ورته حل په پلمه اخته شي. موږ ټول بايد پوه شو چې د برېتانيا تاسيسات دلته د مسلمانو مېرمنو په اړه هېڅ فکر نه کوي، ځکه چې دوی د ناوړه بهرني سياست د مستقيمې پايلې په توګه د ميليونونو مسلمانو مېرمنو په اړه په يمن، ميانمار، سوريه او عراق کې پاتې شوي دي. دا په انګلستان کې د هغو ټولو مېرمنو د وضعيت لپاره مبارزه کول دي، چې لا هم په دغې ټولنه کې له ليبرال ارزښتونو، نابرابری، ځان ځاني ګټو، بدبختيو، ځورونې او کورني ناوړه چلند سره مخ دي».

بشپړه مقاله دلته لوستلای شئ:

http://www.hizb.org.uk/viewpoint/can-secular-state-really-protect-muslim-women/.

**يحيی نسبت**

**په برېتانيا کې د حزب التحرير مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د جمادی الثاني ۲۲مه**

**۲۰۲۰م کال، د فبروری ۱۶مه**

**د صدور ګڼه: ۱۶/ ۱۴۴۱**